**د رپوټ لنډيز**

*افغانستان په ۲۰۱٤ کال کې: د افغانستان د خلکو سروې -* په افغانستان کې د ایشیافونډیشن لسمه عامه کلنۍ نظر سنجونه ده. دا سروې د افغانانو د افکارو او نظریاتو د تر ټولو لرغوني او پراخې سروې په توګه توانیدلې ده چې له ۲۰۰٤ کال څخه را پدیخوا د هیواد د ودې او پراختیا لپاره د راز راز مهمو موضوع ګانو په اړه څه د پاسه د ٦٥٥٥٨ افغانانو نظرونه را ټول کړي. دغه سروې له دې امله چې یوه پراخ بنسټه او اوږد مهاله سروې ده او د اوږده مهال په ترڅ کې يې د خلکو میلان د هغو موضوع ګانو په باب چې په ورته ډول د افغانانو او د نړیوالې ټولنې د پاملرنې په محراق کې دي سنجولی دی، د یوې بې سارې سروې په توګه ځپل ځای ټینګ کړی دی.

د هیواد عمومي وضعیت سږ کال یو ډول «محتاطانه خوشبیني» ښکاروي چې په ټول هیواد کې د ویرې او هم د هیله من توب د شتون ښکارندوینه کوي. په ۲۰۱٤ کال کې بیا هم د افغانستان د خلکو یوه ستره برخه د ناامنۍ، فساد او وزګارۍ له امله اندیښنه لري. د سږ کال سروې د ٥۰,۱٪ نارینه او ٤۹,۹٪ ښځینه ځواب ورکوونکو په ګډون د ۹۲۷۱ افغانانو نظرونه چې ۱٤ قومونو پورې تړاو لري، د هیواد له ۳٤ ولایتونو څخه را ټول کړي دي.

د سروې فزیکي کار د ۲۰۱٤ کال د جون له ۲۲مې نیټې څخه د جولای میاشتې تر ۸مې نیټې پورې، د افغانستان د جمهوري ریاست د ټاکنو د دویم پړاو تر تیریدو څخه وروسته تر سره شو. دغه سروې د ۹۰۹ تنو تجربه لرونکو افغانو مرکه کوونکو په واسطه (٤۷٤ نارینه او ٤۳٥ ښځینه) چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې ګومارل شوي وو، تر سره شوه. د دغې سروې د پایلو په هکله کولای شو ووایو چې دغه پایلې د هیواد له ټولو اتباعو څخه استازیتوب کوي ځکه چې پکښې د ښارونو او کلیو په ګډون په ولایتونو کې د نفوس د ویش په اړه د مرکزي احصاییې ریاست ارقام کارول شوي دي. په دغې سروې کې د تیروتنې ضریب په ۹٥٪ د اطمینان کچې کې که چیرې P=.۰٥ ومنل شي او د «ډیزاین اغیزه» د شونتیاؤ د بیلګې لپاره ۲,۱۷ وي، ٪۱,٥ -/+ کیږي.

د سروې سیمه ییز کارد اکسور مؤسسې له خوا چې د ایشیافونډیشن اوږد مهاله څیړنیزه همکاره مؤسسه ده، د افغانستان د مرکزي احصاییې د ریاست له خوا د افغانستان د نفوس په اړه د وړاندې شویو معلوماتو پر بنسټ تر سره شو او د سیاره په نوم یوې دریيمګړې خپلواکې مرجع د کیفیت د کنټرول په موخه د سروې د بهیر څارنه وکړه. په همدې توګه د یوریکا څیړنیزې مؤسسې د سروې کیفي څیړنه له پنځو ولایتونو څخه د ۱۲٥ تفصیلي تر لاسه شویو مرکو په کارولو سره تر سره کړه (دا برخه سږ کال د لومړي ځل لپاره وکارول شوه). ایشیافونډیشن او هغه همکارې اداري چې د سروې په تر سره کولو کې ورسره مرسته کوي ټول په ګډه دغه سروې د کیفیت له اړخه داسې کنټرولوي د معتبر والي، ډاډمنتوب، په وخت توب او بشپړتیا د اصولو په پام کې نیولو سره.

د سږ کال سروې د ۲۰۱٤ کال د ټاکنو، کډوالۍ، د ښځو حقوقو، روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي او د پیبنو پر وړاندې د غبرګون په شان د موضوع ګانو په باب یو لړ نوي پوښتنې لري. ایشیافونډیشن دا ځل هم هڅه کړې ده څو د سروې د موندنو تر څنګ د هغو احصاییوي څیړنه هم وړاندې کړي تر څو له دې لارې خپلو مخاطبینو ته وښیي چې د جندر، جغرافیې، ملیت او تحصیلي کچې په شان فکتورونه څرنګه کولای شي د راز راز مسایلو په باب د افغانانو د افکارو په جوړښت او برداشتونو کې اغیزه ولري. د دغې سروې د میتودولوجي په هکله جزییات د دغه رپوټ په (۱) ضمیمه کې راغلي دي.

**عمومي وضعيت**

- **د هيواد د خوځښت لوری:** په ۲۰۱٤ کال کې شاوخوا ٥٤,۷٪ افغانان وايي چې هيواد په سم لوري روان دی، چې د ٥۷,۲٪ افغانانو په پرتله چې په ۲۰۱۳ کال کې يې ورته نظر درلود کمښت ښکاروي. په ورته وخت کې ٤۰,٤٪ يې وايي چې هيواد په ناسم لوري روان دی چې د ۳۷,۹٪ په پرتله چې په ۲۰۱۳ کال کې ورته پوښتنې ته د سروې شويو کسانو د ځوابونو څخه ترلاسه شوې سلنه وه کمښت ښکاروي. د دغه کلني تموج سره سره اږد مهاله ميلان له ۲۰۰٦ کال څخه را پديخوا د هغو کسانو د شمير زياتوالی ښکاروي چې باور لري چې هيواد په سم لوري روان دی. په ټوليزه توګه په ۲۰۱٤ کال کې د خوشبينی کچه په ختيځ، سهيل ختيځ او سهيل لويديځو سيمو کې د نورو سيمو په پرتله لوړه ده. له ۲۰۱۳ کال څخه را پديخوا د هيواد په ختيځ او لويديځ کې د هغو افغانانو سلنه چې باور لري چې هيواد په سم لوري روان دی ډيره شوې ده. تر ټولو ستر کمښت د تير کال په ترڅ کې د هغو کسانو په سلنه کې چې وايي هيواد په سم لوري روان دی د مرکزی/ هزارت جات سيمي په اوسيدونکو کې ليدل کيږي.
- **د خوشبينی دليلونه:** د دې پوښتنې په ځواب کې چې هيواد ولې په سم لوري روان دی، افغانانو بيارغونې (۳٦,٤٪)، ښه امنيت (۳۲,۸٪)، د ښوونې او روزنې په سيستم کې سمون (۱٥,۱٪)، د هيواد د ملي اردو او ملي پوليسو فعاله حضور (۱۰,۲٪)، اقتصادي بيارغونې (۸,۷٪) او دموکراسي/ ټاکنو (۸,۷٪) ته اشاره وکړه. له ۲۰۰٦ کال څخه راهيسې امنيت او بيارغونه په پرلپسې توګه په خوندي سيمو کې د خوشبينی د مهمو دليلونو په توګه وړاندې شوي دي. له دموکراسی/ ټاکنو څخه په مخ پر زياتيدونکې توګه د خوشبينی د دليلونو په توګه يادونه کيږي چې کچه يې د ۲۰۰۹ کال تر ټاکنو وروسته د ۲۰۱۰ کال په پرتله لوړه شوې ده.
- **د بدبينی دليلونه:** د دې عمده دليلونه چې ولې افغانان وايي چې هيواد په ناسم لوري روان دی نا امني (۳۸,۸٪)، فساد (په ټوليزه توګه او اداري فساد په ځانګړې توګه) (۲٤,۲٪)، وزګاري (۲۲,٦٪)، ناوړه اقتصاد (۱۰,۲٪) او په ټاکنو کې درغلي (۹,٤٪) دي. له ۲۰۰۷ کال څخه راپديخوا ناامني د بدبينی د تر ټولو ستر دليل په توګه ياد شوی دی او د هغو کسانو تناسب چې ناامني يې د خپلې بدبينی د دليل په توګه مطرح کړې ده له ۲۰۱۳ کال څخه تر ۲۰۱٤ کال پورې خورا لوړ شوی دی. همدارنګه د هغو افغانانو شمير چې په دې اړوند بې کاری ته اشاره کوي له ۲۰۰٦ کال څخه راپديخوا تر ټولو لوړه کچه کې ده.
- **د افغانستان تر ټولو سترې ستونزې: په ملي کچه.** افغانان ناامنی (۳٤,۰٪)، فساد (۲۸,٤٪)، وزګاری (۲٥,۷٪) او اقتصاد (۱۰,۸٪) او بيسوادی (۷,٦٪) هغه تر ټولو لويې ستونزې بولي چې افغانستان په ټوليزه توګه ورسره مخامخ ده. په داسي حال کې چې دغه لست د تيرو کلونو په ترڅ کې څه ناڅه په خپل حال پاتې شوی دی، سږ کال تر ټولو ډير زياتوالی د هغو کسانو په شمير کې راغلی دی چې وايي نا امني تر ټولو لوړه ننګونه ده (۳٤,۰٪ په ۲۰۱٤ کال کې د ۲۹,۸٪ په پرتله په ۲۰۱۳ کال کې). له نا امني څخه تر ټولو ډير په لويديځو سيمو (٤۲,۰٪) کې او تر ټولو لږ په شمال ختيځو سيمو (۲٤,٥٪) کې يادونه کيږي.
- **د افغانستان تر ټولو سترې ستونزې: په سيمه ييزه کچه.** بيکاری (۳۳,۱٪) په سيمه ييزه کچه تر ټولو لويه ستونزه ده «نا امني (۱٤,۱٪)» چې وروپسې بيا په دغه لست کې د څښاک اوبه (۱٦,٤٪)، د بريښنا د انرژي تامين (۲۲,٥٪)، سړکونه (۱۷,٥٪)، روغتيايي مرستې (۱۱,۲٪) او تعليم او تحصيل (۱۱,۸٪) راځي. سره له دې چې په دغه لړليک او ترتيب کې يې په تيرو اتو کلونو کې کوم د پام وړ بدلون ندی راغلی، د هغو افغانانو سله چې وزګاری ته

اشاره کوي له ٢٦،٩٪ څخه په ٢٠٠٩ کې ٣٣،١٪ ته په ٢٠١٤ کال کې لوړه شوې ده. وزګاري په سيمه ييزه کچه په ټولو سيمو کې ستره ستونزه ده پرته له ختيځو سيمو څخه چيرته چې د برېښنا کمښت (٣٤،٣٪) د تر ټولو سترې ستونزې په توګه رپوټ ورکړل شوی ده.

- **د ښځو تر ټولو سترې ستونزې:** ددې پوښتنې په ځواب کې چې اوس مهال د ښځو تر ټولو سترې ستونزې کومې دي افغانان تل تحصيل او نالوست توب (٢٣،٩٪)، د ښځو لپاره د کاري فرصتونو نشتوالي (١٤،٦٪)، کورنې تاوتريخوالي (١١،٣٪)، اجباري ودونه او د مهر نه ورکول (٧،٢٪) او د حقوقو نه رعايت (٦،٢٪) په اوس وخت کې د ښځو د تر ټولو سترو ستونزو په کتار کې شميري. ښځې د نارينه ؤ په پرتله ډيری کورنې تاوتريخوالي، د هغو د حقوقو نه رعايتيدلو او د کاري فرصتونو نشتوالي ته د افغانو ښځو پر وړاندې د تر ټولو سترو ستونزو په سترګه ګوري.
- **د خوښۍ اظهار:** په ټوليزه توګه ٧٨،٦٪ افغانان وايي چې تر يوه بريده او يا هم ډير زيات خوښ دي، ٨١،٢٪ دغه کسان نارينه او ٧٥،٦٪ يي ښځې دي.

**امنيت**

- په ٢٠١٤ کال کې اکثره افغانانو (٦٥،٤٪ ) په ډاګه کړه چې تل، اکثره او يا هم ځيني وختونه د خپل ځان يا د خپلې کورنۍ د امنيت او خونديتوب په باب ويره لري. د خونديتوب په باب ويره له ٢٠١٣ کال څخه راپديخوا ډيره شوې ده (٥٩،٠٪) او له ٢٠٠٦ کال څخه تر دې دمه د شخصي خونديتوب له امله ويره په پرلپسې توګه ډيره شوې ده. هغه ولايتونه چې ورڅخه د شخصي خونديتوب په اړه د تر ټولو ډيرې ويرې رپوټ ورکړل شوی دی فارياب (٩٢،١٪)، وردګ (٨٩،٢٪)، فراه (٨٧،٥٪) او کندز (٨٧،٥٪) ولايتونه دي. هغه ولايتونه چې اوسيدونکو يې وويل چې هيڅکله د شخصي خونديتوب په باب نه ويريږي او يا هم په ندرت سره د ويرې احساس کوي پنجشير (٩٨،٥٪)، بدخشان (٨١،٧٪) او باميان (٧٤،٩٪) ولايتونه دي. درې پر څلورمه برخه افغانان وايي چې د افغانستان له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته د سفر په صورت کې به د ويرې احساس وکړي (٧٦،٤٪). همدارنګه يو واضح اکثريت په سوله ييزو لاريونونو کې له ګډون (٦٩،٦٪)، د دولتي پستونو له نيولو (٧٠،٨٪) او له بهرنيو ځواکونو سره له مخامخ کيدو (٧٦،٦٪) څخه د ويرې احساس کوي.
- هغه افغانان چې وايي سږ کال له تاوتريخوالي يا جرم سره مخامخ شوي دي (د ټولو ځواب ورکوونکو ١٥،٦ سلنه) هغه کسان دي چې د هغو په پرتله چې له داسې ستونزو سره ندي مخامخ شوي د خپل شخصي خونديتوب په تړاو ډير د ويرې احساس کوي. د هغو افغانانو سلنه چې وې ويل له تاوتريخوالي يا جرم سره مخامخ شوي دي په لوګر ولايت کې لوړه وه (٣٩،٠٪) چې ورپسې بيا غور (٣٧،٥٪) او هلمند (٣٧،٠٪) ولايتونه راځي. هغه ولايتونه چې له تاوتريخوالي يا جرم سره د مخامخ کيدو تر ټولو کمه تجربه ورڅخه رپوټ ورکړل شوې ده پنجشير (١،٥٪)، بدخشان (٢،٣٪) او باميان (١،٠٪) ولايتونه دي.
- اکثره هغه کسان چې له تاوتريخوالي يا جرم سره مخامخ شوي دي وايي چې د هغو په اړه يې رپوټ ورکړی دی (٦٩،٠٪)، اکثره افغانان (٥٨،٩٪) په دې نظر دي چې که چيرې کوم جرم يې تجربه کړی وای او د هغه رپوټ يې ورکړی وای، تر يوه بريده او يا هم ډير به ډاډمن وو چې مجرم به د خپلو کړنو په جزا رسيدلی وه.

د اطمينان دغه کچه د هغه څه په پرتله چې ۲۰۱۳ کال کې ریپوټ ورکړل شوی وو (۴۵،۸٪) لوړ دی خو د دغې د اطمینان کچې په تیرو پنځو کلونو کې ډیر توپیر کړی دی. د هغو افغانانو په سلنه کې چې له دې نظر سره موافق دي چې افغان ملي پولیس د مجرمینو د نیولو توان لري د تیرو کلونو په اوږدو کې زیاتوالی راغلی دی: له ۷۰٪ څخه په ۲۰۱۰ کال کې ۸۲،۱٪ ته په ۲۰۱۴ کې.

- د دې پوښتنې په ځواب کې چې کوم ځواکونه په سیمه کې تر ډیره د امنیت د خوندي کولو مسؤولیت لري، ۵۰،۴٪ افغانانو د ملي پولیسو، ۲۴،۲٪ د ملي اردو او ۲۱،۷٪ د سیمه ییزو پولیسو نوم واخیست. په ښارونو کې میشت افغانان ډیری د ملي پولیسو او په کلیو کې میشت افغانان بیا ډیری د ملي اردو او سیمه ییز پولیس نوم اخلي.
- که چیرې د اطمینان کچه په ټولیزه توګه په پام کې ونیول شي لیدل کیږي چې ۸۶،۵٪ افغانان د افغانستان په ملي اردو او ۷۳،۲٪ یې پر ملي پولیسو ډاډمن دي. په ټولیزه توګه د وخت په تیریدو سره د ملي اردو او ملي پولیسو په اړه د خلکو برداشت ښه شوی دی سره له دې چې ملي اردو له دغه نظره تر دې دمه له ملي پولیسو څخه مخکې دی. خو له دې سره سره ۵۵،۷٪ افغانان لا تر اوسه هم په دې باور دي چې افغان امنیتي ځواکونه (چې ملي اردو او ملي پولیس یې دوه برخې جوړوي) په سمه توګه د خپلو دندو د تر سره کولو لپاره بهرنیو مرستو ته اړتیا لري.
- کابو درې پر څلورمه برخه افغانان (۷۲،۶٪) وايي چې د افغانستان دولت او مخالفو وسله والو ډلو تر منځ د سولې کوښښونه کولای شي هیواد کې ټیکاو په ټینګښت کې مرسته وکړي. د سولې پر هڅو باندې په پنجشیر (۲۲،۳٪)، دایکندی (۴۸،۰٪)، بلخ (۵۶،۴٪) او وردګ (۵۸،۳٪) ولایتونو کې د نورو ولایتونو په پرتله باور کم دی. برعکس، دا اعتماد په جوزجان (۹۲،۸٪)، بادغیس(۸۹،۱٪) او ننګرهار (۸۷،۴٪) ولایتونو کې په تر ټولو لوړه کچه کې قرار لري. نارینه (۷۶،۸٪) د ښځو په پرتله (۶۸،۷٪) ډیر په دې باور دي چې د پخلاینې لپاره هڅې کولای شي هیواد کې ټیکاو را منځ ته کړي.
- له هر دریو افغانانو څخه یو تن (۳۲،۰٪) وايي چې د حکومت له وسله والو مخالفینو سره ډیره (۶،۶٪) یا لږ (۲۵،۴٪) خواخوږي لري. د کلیو اوسیدونکي (۳۵،۰٪) د ښارونو د اوسیدونکو په پرتله (۲۲،۴٪) له وسله والو مخالفینو سره ډیره خواخوږي لري. هغه نارینه چې په خورا نا امنه سیمو کې ورسره توقفي مرکې وشوې ډیره خواخوږي یې وښودله: ۱۴،۷٪ وايي چې د دولت له وسله والو مخالفینو سره ډیره خواخوږي لري او ۳۵،۴٪ یې وايي چې له هغو سره تر یوه بریده خواخوږي لري.

**اقتصادي وده او کاري فرصتونه**

- څه د پاسه یو پر دریمه برخه افغانان (۳۹،۶٪) وايي چې اقتصادي وضعیت یې تیر کال د سږ کال په پرتله ښه وه. دا په داسې حال کې ده چې ۳۶،۹٪ یې وايي چې په اقتصادي وضعیت کې یې د تیر کال په پرتله څه بدلون نه دی راغلی. د هغو افغانانو سلنه چې وايي اقتصادي وضعیت یې د تیر کال په پرتله سمون موندلی ده ۲۱،۵ سلنه ده.

- سږ کال د لومړي ځل لپاره د مهاجرت مسأله هم په سروې کې شامله شوه. کابو د افغانانو څلورمه برخه (۲۲،۳٪) وايي چې په تيرو ۲۳ کلونو کې (يعنې د ډاکټر نجيب الله د حکومت له نسکوريدو څخه وروسته) له افغانستان څخه وتلي دي، په داسې حال کې چې ۱٤،۵٪ وايي چې له يوه ولايت څخه بل ولايت ته کډوال شوي دي. سره له دې چې د ځواب ورکوونکو په خوله د هيواد يا ولايت څخه د هغوی د وتلو تر ټولو ستر دليلونه جګړه او ناامني وه خو ويل يې چې اقتصادي ستونزو هم په دې برخه کې اغيزه درلوده. د هغو کسانو څخه چې هيواد څخه وتلي وو ۲۷،۰٪ يې وايي چې د اقتصادي ستونزو يا بيکارۍ له امله دې کار ته اړ شول او د کورنيو بيځايه شويو له ډلې څخه لوړې سلنې (۳۸،۸٪) يې په اقتصادي دلايلو يا کارموندنې لپاره له يوه ولايت څخه بل ولايت ته کډوال شوي دي.
- له بيوزلۍ څخه پخپله د رپوټ ورکونې په برخه کې، د هغو افغانانو سلنه چې وايي اوس مهال وزګار او د کار په لټه کې دي له ٦،٦٪ څخه په ۲۰۱۳ کال کې ۱۰،۷٪ ته په ۲۰۱٤ کال کې د پام وړ لوړه شوې ده. د نارينه ؤ د وزګارۍ کچه، د هغوي په خوله، له ۲۵،۵٪ څخه په ۲۰۰۹ کال کې ۱۰،۰٪ ته په ۲۰۱٤ کې را ښکته شوې ده، په داسې حال کې چې د ښځو د رپوټونو له مخې د هغوی د وزګارۍ کچه له ۰،۱٪ څخه په ۲۰۰۹ کال کې ۱۱،۳٪ ته په ۲۰۱٤ کال کې لوړه شوې ده. دا چې د هغو ښځو سلنه چې وايي د کار خاوندانې دي ثابت پاتې دی، د وزګارۍ د کچې دغه لوړيدل احتمالاً د ښځو د وزګارۍ د کچې د لوړيدو په مانا نده بلکې ددې ښکارندويه ده چې د کاري ځواک سره د ښځو د يوځای کيدلو ليوالتيا زياته شوې ده.
- د وخت په تيريدو سره د هغو افغانانو سلنه چې وايي د کورنۍ ښځينه غړې يې د کور په عوايدو کې برخه لري له از ۱۳،۹٪ څخه په ۲۰۰۹ کال کې ۲۲،٤٪ ته په ۲۰۱٤ کال کې لوړه شوې ده. د هغو کورنيو سلنه چې ښځې يې د کورنۍ په عوايدو کې ونډه لري له يوه ولايت څخه بل ولايت پورې ډير توپير لري څرنګه چې تر ټولو ټيټه کچه يې په خوست ولايت کې (۱،۱٪) او تر ټولو لوړه کچه يې په نورستان ولايت کې (٦۳،۷٪) ثبت شوې دی.
- د کورنيو مياشتنی عايد په اوسط ډول د رپوټونو له مخې ۱۰۸۳۹ افغانۍ (د ۱۹۰ امريکايي ډالرو معادل) دی؛ په دې منځ کې په کليو کې ميشتو افغانانو وويل چې لږ عايد لري چې ۹۷۰۱ افغانۍ (د ۱۷۰ امريکايي ډالرو معادل) دي په داسې حال کې چې په ښارونو کې د ميشتو افغانانو عايد لوړ دی (۱٤۹۰۳ افغانۍ چې ۲٦۱ امريکايي ډالر کيږي).
- د عوايدو کچه د ځواب ورکوونکو د خوښۍ له کچې سره مستقيم تړاو لري. هغه افغانان چې ډير عايد لري متناسباً ډيره خوښي څرګندوي خو کله چې د عوايدو کچه په مياشت کې له ٤۰۰۰۰ افغانيو (۷۰۰ امريکايي ډالرو) څخه لوړيږي نور نو دغه تړاو د پام وړ ندی.

**پراختيا او د خدمتونو وړاندې کول**

- سروې له ځواب ورکوونکو څخه وغوښتل چې په خپل هستوګنځي کې بیلابیلو اجناسو او خدمتونو ته خپله د لاس رسي کچه وارزوي. څه د پاسه نیمايي افغانانو د ماشومانو تعلیم او تحصیل (۷۰,۸%)، د څښاک پاکو اوبو (۶۹,۴%) او سړکونو (۵۰,۷%) ته د ښه لاس رسي (اکثراً او تل) رپوټ ورکوي. همدارنګه له نیمايي څخه لږو هغوی وویل چې کلنیکونو او روغتونونو (۴۴,۴%)، درملو (۴۳,۴%)، د خړوب لپاره اوبو (۴۰,۱%) او بریښنا (۳۶,۸%) ته ښه لاس رسی لری.
- کله چې د هستوګنې په ځای کې د بیلابیلو اجناسو او خدمتونو له کیفیت څخه د رضایت د کچې په اړه پوښتنه وشوه، ځواب ورکوونکو تر ټولو ډیر رضایت د ماشومانو لپاره د لیک لوست د زمینې له مساعد اوسیدلو او د څښاک پاکو اوبو ته له لاس رسي څخه وښود (په ترتیب سره ۷۴,۳% او ۷۲,۹%) په داسي حال کې چې له بریښنا څخه د رضایت کچه تر ټولو ټیټه ده (۳۷,۹%). د بریښنا د انرژۍ له تامینیدو څخه رضایت له ۲۰۱۳ (۴۰,۵%) کال څخه تر ۲۰۱٤ (۳۷,۹%) کال پورې رالویدلی ده. د وخت په تیریدو سره د څښاک پاکو اوبو ته د لاس رسي په برخه کې له نورو خدمتونو څخه د رضایت په پرتله ډیرې لاس ته راوړنې حاصل شوې دي.
- سږ کال ٦٤,١% افغانان وايي چې په خپله سیمه کې له یو شمیر پراختیايي پروژو څخه خبر دي او هغه دوه پروژې چې په مکرر ډول یې نوم اخلي د بیارغونې یا د سړکونو او پلونو د جوړولو (۳٦,۱%) او د څښاک د اوبو پروژې (۲۵,٦%) دي. په مرکزي/ هزاره جات سیمه کې میشت افغانان په خپله سیمه کې له نویو پراختیايي پروژو څخه لږ خبر دي (٤۳,۸%)، په داسي حال کې چې له دغو پروژو څخه د خبراوي کچه د سهیل ختیځ سیمې په اوسیدونکو کې ډیره ده (۷۰,۵%).
- په ۲۰۱۴ کال کې د پراختیايي پروژو پنځه تر ټولو نامتو بسپنه ورکوونکي د امریکا متحده ایالات، د افغانستان حکومت وزارتونه، جاپان، هندوستان او آلمان وو. سیمه ییزو پراختیايي پروژو ته د بسپنه ورکوونکي په توګه د افغانستان حکومت په پیژندل کیدلو کې له ۲۰۱۳ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې دولس سلنه زیاتوالی راغلی دی چې ښايي دلیل یې د افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې د ټولیزو مرستو د حجم کمیدل او د افغانستان دولت د بودجې له لارې د نړیوالې ټولنې د مرستو په مصرفیدو کې زیاتوالی وي. له دې سره سره په ټولیزه توګه د ځواب ورکوونکو یوه لوړه سلنه (٤۰,۷%) وايي چې نه پوهیږي په سیمه کې یې پراختیايي پروژې چا تمویل کړې دي.
- څه د پاسه نیمايي ځواب ورکوونکي (۵۹,۱%) وايي چې هیڅ کله ښوونځي ته نه دي تللی. دا مسأله د کلیوالو افغانانو تر منځ (٦۵,۱%) په ښارونو کې د میشتو افغانانو (٤۰,۵%) په پرتله ډیر عمومیت لري او همدارنګه د ښځو په منځ کې (۷٤,۲%) د نارینه وُ (٤۲,۱%) په پرتله دیره لیدل کیږي. په ټولو سیمو کې مرکزي/ هزاره جات سیمه تر ټولو ډیر داسې ځواب ورکوونکي لري چې رسمي تحصیلات یې ندي کړي (۷٤,۹%) په داسي حال کې چې مرکزي حوزه/ کابل تر ټولو لږ د رسمي تحصیلاتو نه لرونکي ځواب ورکوونکي لري (٤۲,۲%). په ټولیزه توګه ، ٤۲,۰% افغانان وايي چې یو نه یو ډول مدرسه کې یې اسلامي زده کړې یې کړې دي.
- بنسټیزو روغتیايي خدمتونو ته د نږدې اوسیدو له نظره، له نیمايي ډیر افغانان (۵۷,۳%) وايي چې تر ټولو نږدې کلنیک یا روغتون یې له کور څخه دیرش دقیقې واټن لري. دا په داسي حال کې ده چې ٦,۸% یې وايي چې یا یې د هستوګنې په سیمه کې کلنیک یا روغتون شتون نه لري او یا هم مجبوره دي چې ورته د رسیدو لپاره شاوخوا درې

ساعته سفر وکړي. له ګډون کوونکو څخه دا پوښتنه هم وشوه چې د څه ډول نقلیه واسطې په کارولو سره ځان نږدې کلنیک یا روغتون ته رسوي. کابو نیمایي ځواب ورکوونکي (٤٨,٧٪) وایي چې په پښو ځان رسوي، په داسې حال کې چې ٢٦,٤٪ یې وایي چې د تیز رفتار موټر په وسیله او ١٣,٥٪ یې په موټر سایکل ځان کلنیک یا روغتون ته رسوي. دایکندی (١١٩ دقیقې)، نورستان (١٠٢ دقیقې) او غور (٨٧ دقیقې) هغه ولایتونه دي چې روغتیایي مرکزونو ته یې د تګ راتګ واټن په اوسط ډول تر ټولو اوږد دی.

- له ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل شول چې آیا د تیر کال په اوږدو کې یې په خپل کلي کې سیلاب، د ځمکې ښوییدل، زلزله یا برفکوچ تجربه کړی دی که نه، او وروسته ورڅخه وغوښتل شول چې د دغو پېښو پر وړاندې د حکومت غبرګون وارزوي. د سیلاب تر ټولو ډېره یادونه وشوه (٢٦,٧٪) چې ورپسې بیا زلزله (٧,٢٪)، د ځمکې ښوویدل (٣,٩٪) او برفکوچ (٣,٧٪) راغلل. د هغو کسانو سلنه چې په دغې برخه کې د حکومت له غبرګون څخه یوڅه یا ډېر راضي دي له ٤١ څخه تر ۴۶ پورې رسیږي خو مهمه خبره دا ده چې دغه رضایت په هغو ولایتونو کې لوړ وو چې له دغه ډول پېښو څخه اغیزمني شوې وې.

**حکومتوالي**

- د ایشیافونديشن سروی هر کال د خلکو برداشتونه ددې موضوع په اړه سنجوي چې د حکومت بیلابیلې کچې خپل مسؤولیتونه څه ډول تر سره کوي. سږ کال ٧٥,٣٪ افغانان وایي چې مرکزي حکومت خپل کار تر یوه بریده ښه اویا هم ډېر ښه تر سره کوي. د هغوي دوه پر دریيمه برخه وایي چې ولایتي اداري خپل کارونه په ښه توګه تر سره کوي (٦٧,٦٪)، چې ورپسې بیا ښاروالۍ (٥٨,٥٪) او د ولسواليو اداري (٥٦,٧٪) راځي. په دې اړوند په ٢٠١٤ کال کې نظرونه د ٢٠١٣ کال له نظرونو سره ډېر ورته والی لري.
- یو پر څلورمه برخه افغانان وایي چې د تیرو دوه کلونو په اوږدو کې د اړوند ولایت له والي (٢٥,٨٪) یا د پارلمان له یوه غړي څخه یې (٢٥,٠٪) د هغو ستونزو د هوارولو په موخه چې هغوی یې اغیزمن کول د مرستې غوښتنه کړې ده.
- د هغو ٢٢,٠٪ افغانانو له ډلې څخه چې د تیرو دوه کلونو په اوږدو کې یې د ولایتي شورا له غړو سره د مرستې د غوښتنې لپاره اړیکه ټینګه کړې ده ٧٢,٣٪ یې له تر لاسه شوې پایلې څخه خوښ وو (یو څه خوښ یا هم ډېر خوښ). مهمه خبره دا ده چې د تر لاسه شوې پایلې په اړه د نارینه ؤ او ښځو د خوښۍ د کچې تر منځ د پام وړ توپیر شتون نه درلود. په ورته وخت کې د ولایتي ادارو له کړنو څخه د خوښۍ سلنه په شمال لویدیځ، سهیل لویدیځ او مرکزي / کابل حوزه کې لوړه شوې ده خو دغه سلنه په سهیل ختیځه او مرکزي/ هزاره جات سیمو کې د ٢٠١٣ کال د پایلو په پرتله څه د پام وړ توپیر نه لري.
- کله چې له ځواب ورکوونکو څخه په بیلابیلو ادارو باندې د هغوی د اعتماد د کچې په اړه پوښتنه وشوه، د دویم پرلپسې کال لپاره د افغانانو تر ټولو لویې سلنې په رسنیو باندې خپل اعتماد څرګند کړ (٧٢,٧٪). له ٢٠١٣ کال څخه مخکې د افغانانو لوړې سلنې پر دیني رهبرانو باندې اعتماد څرګنداوه (په ٢٠١٤ کال کې٪ ٧٠,٠ ). له بله پلوه وزارتونو د افغانستان د خلکو تر ټولو کم اعتماد تر لاسه کړی دی (٤٧,٣٪).

- کله چې له ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل شول چې آیا په افغانستان کې له دموکراسۍ څخه خوښ دي که نه، ۷۳,۱٪ یې په ۲۰۱۴ کال کې وایي چې تر یوه بریده خوښ دی یا هم ډیر خوښ دي، په داسې حال کې چې ۲۵,۹٪ یې وایي چې تر یوه بریده ناخوښ او یا هم ډیر ناخوښ دي، او ۱٪ وایي چې په دې اړه په څه نه پوهیږي. د وخت په تیریدو سره لیدل کیږي چې له دموکراسۍ څخه د رضایت ریپوټونه د U توري ته ورته یو منحني مسیر غوره کړی دی څرنګه چې ټیټه کچه یې له ۲۰۰۸ کال سره سمون خوري او تر هغې وروسته بیا ورو ورو لوړ شوی دی.
- له ۵۳,۳٪ څخه په سیمه ییزه کچه شروع تر ۷۵,۷٪ پورې په ټول هیواد کې ډیر افغانان د فساد نوم په بیلابیلو ډګرونو کې د یوې سترې ستونزې په توګه یادوي. په دې اړه مهم ټکی دا دی چې د فساد او له فساد سره د مخامخ کیدو اړوند ټول اوږد مهالي مقیاسونه د سروې له پیل څخه تر دې دمه لوړ شوي دي. په ورځني ژوند کې د یوې سترې ستونزې په سترګه فساد ته د کتلو کچه له ۲۰۱۳ (۵۵,۷٪) کال څخه تر ۲۰۱٤ (۶۲,٤٪) کال پورې په چټکۍ سره لوړه شوې ده. په ختیځو او سهیل ختیځو سیمو کې میشت افغانان ډیری په دې آند دي چې فساد د هغوي په ژوند کې یوه ستونزه ده (څه لویه او څه هم کوچنۍ).
- کله چې له ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل شول چې څومره ځله یې چارواکو ته په مختلفو شرایطو کې بډې یا ډالۍ ورکړې او یا یې هم د هغوی په حق کې یو لطف کړی دی په ۲۰۱۴ کال کې ، ۵۷,٦٪ افغانان وایي چې هغوی لږ تر لږه له یوه چارواکي سره د مخامخ کیدو او یا هم لږ تر لږه له یوه وضعیت سره د مخامخ کیدو پر مهال د تیر کال په اوږدو کې له فساد سره مخامخ شوي دي. له نیمایي څخه ډیر افغانان (٥٤,٧٪) چې د تیر کال په اوږدو کې یې له قضاییه ځواک او یا هم محکمو سره سر او کار پیدا کړی وه وایي چې مجبوره شول څو بډې یا ډالۍ ورکړې او یا هم د هغوی په حق کې یو لطف وکړي. کابو همدغه سلنه افغانانو (۵۵,۱٪) د ښاروالیو یا د ولسوالۍ د ادارو له چارواکو سره د ښکیل کیدو پر مهال فساد تجربه کړی دی. د فساد تجربه پر بیلابیلو دولتي ادارو باندې د افغانانو پر اعتماد او برداشتونو باندې منفي اغیزه لري.
- کابو له هر پنځه ځواب ورکوونکو څخه یوه (۱۹,۱٪) وویل چې خپله دعوا یې د حل او فصل په موخه د دعوا ګانو د حل او فصل مرجع ته وړلې ده، او د افغانانو غوڅ اکثریت (۸۰,۷٪) وایي چې له پایلو څخه یې خوښ دي. د دغو دعواګانو کابو نیمایي (٤۲,۳٪) د ځمکو دعوا ګانې دي.
- د کلیو اوسیدونکي د ښار د اوسیدونکو په پرتله ډیری خوښ وو چې خپلې دعوا ګانې جرګو/ شوراګانو ته راجع کړي (٤٤,۸٪ د ۲۵,۸٪ پر وړاندې) او لږ یې غوښتل چې په دغې موخه دولتي محکمې وکاروي (۳۸,۲٪ د ٦۱,۹٪ په وړاندې)
- له افغانانو څخه وپوښتل شول چې آیا د هغو په آند د حقوقو ریاست، دولتي محکمې، او جرګې/ شورا ګانې عدالت کوونکې او د اعتماد وړ دي، سیمه ییز عادات او ارزښتونه رعایتوي، د عدالت په پلي کولو کې اغیزمن دي او قضیې په چټکۍ سره حل او فصل کوي که نه؟ په هر یوه دغه مورد کې ګڼ شمیر افغانان فکر کوي چې دا جرګې/ شورا ګانې دي چې دغه کیفیتونه لري؛ د حقوقو ریاست دویم ځای تر لاسه کړ او تر هغې وروسته بیا دولتي

محکمې راغلې.

**سیاسي ګډون**

- په ۲۰۱۴ کال کې ٦۷،٤% افغانان چې سروې شول وایي چې د دولت په اړه د نظر د ورکولو پر مهال تر یوه بریده او یا هم په بشپړه توګه د خوندیتوب احساس کوي. د پروان (۹٤،۳%)، پنجشیر (۹۱،۹%) او سمنګان (۸٦،۰%) ولایتونو اوسیدونکي فکر کوي چې که چیرې پر دولت نیوکه وکړي نو خوندي به پاتې شي. هغه ولایتونه چې اوسیدونکي یې په دې برخه کې د لږ خوندیتوب احساس لري ارزګان (٤۳،۹%)، غور (٤۹،۲%)، هرات (٥۱،۳%) او زابل (٥۱،۹%) ولایتونه دي. په ښارونو کې میشت افغانان (۷٦،۲%) د کلیو د اوسیدونکو په پرتله (٦٤،٥%) په عام محضر کې پر دولت باندې د نیوکو کولو پر مهال ډېر د خوندیتوب احساس کوي.
- د هغو افغانانو سلنه چې وایي د ۲۰۱٤ کال په ټاکنو کې د ګډون پر مهال (٤٥،۸%) یې د ویرې احساس کاوه د ۲۰۱۳ کال (٥۷،۲%) په پرتله د پام وړ اندازه کښته دی. خلک په نورو سیاسي فعالیتونو کې له ښکیل کیدو لکه په سوله ییزو مظاهرو کې له ګډون (٦۹،٤%) او دولتي پستونو ته له نوماند کیدو (۷۰،۸%) څخه ډېره ویره لري. د دغو درې ډوله فعالیتونو له منځه په ټاکنو کې له رای ورکولو څخه ویره د هیواد په بیلابیلو برخو کې تر ټولو ډېر توپیر وښود ځرنګه چې دغې ویرې په سهیل ختیځ کې له ٦۱،۰% کسانو سره شتون درلود خو په مرکز/ کابل حوزه کې یواځې ۳۱،٦% کسانو دغه ویره درلودله. په سوله ییزو مظاهرو کې له ګډون څخه د لویدیځ سیمې خلکو (۷۸،٤%) تر ټولو ډېره ویره او د مرکزي/ هزاره جات سیمې اوسیدونکو (٥۰،٤%) تر ټولو لږ ویره درلوده.
- کله چې له ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل شول چې د هغوی په آند آیا هغوی کولای شي د دولت پریکړې تر خپلې اغیزې لاندې راولي، ٥٥،۹% یې وویل چې د دولت پریکړې تر یوه بریده او یا هم ډېرې تر خپلې اغیزې لاندې راوستلی شي چې دغه سلنه د ۲۰۱۳ کال په پرتله چې پکښې ٤۷،۹% خلک په همدې نظر وو، لوړه شوې ده. خلک په ننګرهار (۸۱،۱%)، کندز (۷۷،٤%)، سمنګان (۷٦،۰%) او کندهار (۷۳،٦%) ولایتونو کې ډېری فکر کوي چې د خپلو سیمه ییزو حکومتونو پر پریکړو باندې اغیزه شیندای شي.
- کابو دوه پر دریمه برخه افغانان (٦٤،۹%) وایي چې دیني رهبران باید په سیاست کې ښکیل وي، چې د ۲۰۱۳ کال د سلنې په پرتله چې ٥۸،۱% وه زیاتوالی ښکاروي. د سیمو په کچه تر ټولو ډېر زیاتوالی د هیواد په ختیځ او سهیل لویدیځ کې لیدل کیږي په داسې حال کې چې د هغو افغانانو سلنه چې په مرکزي حوزه/ کابل کې وایي چې دیني رهبران باید په دغه ډګر کې ښکیل وي، لږ شوې ده.
- اکثره ځواب ورکوونکي (۸٥،۹%) په دې باور دي چې هر څوک باید خپله رایه پخپله وکاروي، پرته له دې چې سیمه ییز مشران څه فکر کوي. په دغه ځواب کې د سن، جنس یا قوم پر بنسټ چندان مهم توپیر ښکاره نشو.
- کله چې پوښتنه وشوه چې ښځې دې په څه ډول د خپلې رای ورکونې په هکله تصمیم ونیسي، ٥٦،۰% افغانانو وویل چې ښځې باید په دې اړوند چې چا ته رایه ورکړي به خپلواکه توګه پریکړه وکړي او ۲٥،٦% یې وایي چې ښځې باید خپله پریکړه وکړي خو له نارینه ؤ سره په سلامشورې. ډېر شمیر ښاري افغانان (٦۸،۲%) د کلیوالو افغانانو په پرتله (٥۲،۱%) وایي چې ښځو ته پکار ده چې دغه پریکړه پخپله وکړي. پښتانه (۲۰،۸%) ډېرې په

دې آند وو چې نارینه باید د ښځو لپاره پریکړه وکړي، په داسې حال کې چې ١٤,٧% تاجکانو، ١٣,٨% ازبکانو او ١٣,٢% هزاره ؤ له دغې مفکورې ملاتړ کاوه.

- د افغانستان د ٢٠١٤ کال د جمهوري ریاست د ټاکنو په اړوند، له هرو دریيو افغانانو څخه یوه (٣٣,٥%) وویل چې د نوماندانو په هکله د معلوماتو د تر لاسه کولو او په دې اړه د پریکړې لپاره چې چا ته باید رایه ورکړي په رسنیو (د ټلویزیون، راډیو او انټرنټ په ګډون) باندې یې ډیره تکیه درلوده. یو پر دریيمې بلې برخې (٣٩,٣%) په ډاګه کړه چې په دې موخه یې له کورنی او ملګرو څخه معلومات تر لاسه کړل، په همدې توګه ١١,٨% کسانو د سیمه ییزو شورا ګانو او ١٠,٠% یې له جوماتونو څخه دغه معلومات تر لاسه کړل.
- د دغې سروې په پایله کې جوته شوه چې د قوم مسألې د نورو لاملونو په پرتله د رای ورکوونکو پر انتخاب باندې ډیره اغیزه درلوده. کله چې په مستقیمه توګه دغه پوښتنه وشوه افغانانو وویل چې د خپل قوم نوماند ته د رای ورکولو پر ځای د بل قوم نوماند ته رای ورکول هم په خپله محاسبه کې شامل بولي. خو د ٢٠١٤ کال په ټاکنو کې ډیری افغانانو دا هم وویل چې د خپل قوم نوماند ته یې رایه ورکړه.
- له نیمايي څخه ډیر افغانان (٦١,٦%) چې سروې شول وه یې ویل چې د ټاکنو په بهیر کې له امنیتي ګواښونو څخه تر یوه بریده یا ډیر اندیښمن وه چې البته د سهیل لویدیځ سیمې اوسیدونکو (٦٧,٩%) تر ټولو ډیره اندیښنه او د مرکزي/ هزاره جات سیمې اوسیدونکو (٤٤,٥%) تر ټولو لږ اندیښنه درلوده. ښځو (٢٤,٢%) د نارینه ؤ په پرتله (١٨,٦%) ډیره اندیښنه څرګندوله.
- له هغو افغانانو څخه چې وې ویل د ټاکنو په لومړي پړاو کې یې رایه ورنکړه ٣٢,٢% یې وویل چې دلیل یې دا وه چې د رای ورکولو کارت یې نه درلوده، ١٨,٠% یې وویل چې کورنی یې د رای ورکولو اجازه ورنکړه او ١١,٦% یې وویل چې د ناامنی له امله یې رایه ورنکړه. افغانانو د ټاکنو په دویم پړاو کې د نه ګډون په هکله هم ورته دلیلونه وړاندې کړل.
- کله چې د ټاکنو د دویم پړاو تر تیریدو څخه وروسته سمدستي له ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل شول چې آیا ټاکنې آزادې او عادلانه وې که نه ٦٣,٣% یې د «هو» په کلمه ځواب ورکړ. هغه کسان چې فکر کوي دغه ټاکنې آزاده او عادلانه نه وې د خپل دغه ډول فکر دلیلونه یې په خپلو سیمو کې د رای ورکولو د مرکزونو نه پرانیستل کیدل (٤٧,٨%)، د رای ورکولو د پانو کمښت (٤٧,٨%)، او دا باور چې د رایو په شمیرلو کې درغلي وشوه (٤٥,٥%) وړاندې کړل.
- کله چې له ګډون کوونکو څخه وپوښتل شول چې د ټاکنو پر خپلواک کمیسیون باندې د خپلو دندو په تر سره کولو کې څومره اعتماد لري (هغه پوښتنه چې د یو ډیر شمیر نورو ادارو په هکله یې هم صدق کاوه، پورته د حکومتوالی برخې ته مراجعه وکړئ)، ٦٦,٤% یې وویل چې د ټاکنو پر خپلواک کمیسیون باندې په متوسطه او یا هم زیاته اندازه باور لري.
- کابو دوه پر دریيمه برخه افغانان (٦٤,٠%) وایي چې د هغوی په آند د جمهوري ریاست د ټاکنو پایلې به د هغوی په ژوند کې مثبت بدلونونه راولي، چې د ٢٠١٣ کال د ٥٦,٤% په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاروي. نارینه

(٦٨,٥%) د ښځو په پرتله (٦٠,١%) یوځه ډېر ډاډ لري چې د ټاکنو پایلې به یې ژوند ښه کړي.

**اطلاعاتو ته لاس رسی**

- د تیرو کلونو په شان په ٢٠١٤ کال کې هم راډیو (٧٧,٤%) د خبرونو او اطلاعاتو د ترلاسه کولو لپاره تر ټولو ډېره کاریدونکې وسیله ده چې ورپسې بیا ټلویزیون (٥٨,٤%)، ګرځنده ټلیفون (٤٨,١%)، جوماتونه (٤٦,٩%)، سیمه ییزې شورا ګانې (٣٦,٤%) او انټرنټ (٥,٦%) راځي. د ٢٠١٣ کال په پرتله د خبرونو او اطلاعاتو د اصلي سرچینې په توګه پر راډیو او ګرځنده ټلیفونونو باندې اتکا کولو هم په ښارونو او هم په کلیو کې د پام وړ کمښت موندلی ده چې لامل یې تر ډېره بریده د ټلویزیون او انټرنټ په شان د نورو امکاناتو زیاتیدل شمیرل کیږي. په کلیو کې په ټلویزیونونو او ګرځنده ټلیفونونو باندې اتکا د ښارونو په پرتله عمومیت نه لري په داسې حال کې چې جوماتونه او سیمه ییزې شورا ګانې د ښارونو په پرتله ډېر عمومیت لري.
- د ټلویزیون مالکیت له ٣٦,٩% څخه چې په ٢٠٠٧ کال کې وه په ٢٠١٤ کال کې ٥٨,٣% ته لوړ شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې د خبرونو او اطلاعاتو د سرچینې په توګه د ټلویزیون کارول له ٥٤,٨% څخه په ٢٠١٣ کال کې ٥٨,٤% ته په ٢٠١٤ کال کې لوړ شوی دی. د انټرنټ کارول هم له ٣,٢% څخه په ٢٠١٣ کال کې ٥,٦% ته په ٢٠١٤ کال کې رسیدلی دی او په ښاري سیمو کې د تیر کال په اوږدو کې دوه برابره شوی دی.
- سره له دې چې ښايي د رسنیو کارول په مستقیمه توګه په رای ورکولو کې د خلکو د ګډون لامل ونه ګرځي، خو ګڼ شمیر هغه افغانانو چې وايي د خبرونو او اطلاعاتو د تر لاسه کولو لپاره ټلویزیون یا راډیو کاروي د هغو کسانو په پرتله چې دغه دوه اطلاعاتي سرچینې نه کاروي، د جمهوري ریاست د ټاکنو په لومړي پړاو کې رایه ورکړې وه.
- هغه افغانان چې د اطلاعاتو د ترلاسه کولو لپاره له ټلویزیون او پراختیایي شورا ګانو څخه کار اخلي د دولت له وسله والو مخالفو ډلو سره لږ د خواخوږۍ احساس لري. برعکس، هغه کسان چې راډیو، ګرځنده ټلیفونونه او جوماتونه د خبرونو او اطلاعاتو د لومړنۍ سرچینې په توګه کاروي د دولت له وسله والو مخالفینو سره ډېره خواخوږي ښکاروي. دغه موندنه آن د سیمې او نورو دیموګرافیکو فکتورونو له نظره تر کنټرولو وروسته بیا هم په خپل حال پاتې ده.
- هغه ځواب ورکوونکي چې د خبرونو او اطلاعاتو د ترلاسه کولو لپاره یې ټلویزیون کاراوه ډېری په دې عقیده وه چې پکار ده ښځې له نارینه ؤ سره د تحصیل په برخه کې یوشان حقوق ولري (آن د جندر، تحصیل او سیمې په څیر د ځینو فکتورونو له نظره تر کنټرولولو وروسته).

**ښځې په ټولنه کې**

- یواځې ١٩,٢% افغانان وايي چې د داسې سازمان، نهاد یا مرجع له شتون څخه خبر دي چې ښځې کولای شي ورڅخه د خپلو ستونزو د هوارۍ په موخه د مرستې غوښتنه وکړي. د هغو کسانو په منځ کې چې د دغه ډول

مرجع له شتون څخه خبر دي ٤٤،٤٪ يې د ښځو د چارو رياست، ١٣،٧٪ يې د بشر د حقوقو د کميسيون او ١٢،٣٪ يې د ولسوالۍ د مقام د دفتر نوم واخيست.

- کله چې له افغانانو څخه وپوښتل شول چې د خپلو کورنيو ستونزو د حل کېدو لپاره چا ته مراجعه کوي ٢٩،٥٪ يې وويل چې له کورنۍ او ملګرو څخه مرسته غواړي، او تر هغې وروسته يې د سيمه ييزې جرګې مشران (١٥،٠٪) او د سيمې ملک/ خان (١٠،٩٪) ياد کړل.
- له نيمايي يو څه ډېر ځواب ورکوونکي (٥٢،٥٪) وايي چې دولتي محکمې له نارينه ؤ او ښځو سره يو شان چلند کوي. ګڼ شمير هغو کسانو چې خپله دعوا يې شورا/ جرګې ته راجع کړې وه (٦٤،٥٪) ددې مفکورې پلوي کوي چې پکار ده د ښځو لپاره ځانګړې شورا ګانې/ جرګې جوړې شي. دغې مفکورې د ښځو په منځ کې د نارينه ؤ په پرتله ډېر پلويان درلودل.
- څه دپاسه دوه پر درييمه برخه ښځې چې سروې شوي (٦٩،٧٪) وايي چې د ٢٠١٤ کال د جمهوري رياست د ټاکنو په دويم پړاو کې يې رايه ورکړه، په داسي حال کې چې ٤٣،٤٪ ښځې وايي چې د ٢٠٠٩ کال د جمهوري رياست په ټاکنو کې يې رايه ورکړې وه. د هغو افغانانو له ډلې څخه چې وايي د ټاکنو په لومړي پړاو کې يې رايه ورنکړه د کورنيو د غړيو مخالفت د ښځو له خوا د نارينه ؤ په پرتله ډېر وړاندې شو.
- سږ کال د لومړي ځل لپاره د هغو افغانانو شمير چې وايي د حکومت سياسي پستونه بايد ډېرى د نارينه ؤ په اختيار کې وي (٤٦،١٪) د هغو کسانو په پرتله چې وايي سياسي پستونه بايد په انډوليزه توګه د نارينه ؤ او ښځو تر منځ وويشل شي (٤٢،١٪) ډېر شوى دى. له سيمه ييز اړخه په سهيل لويديځو سيمو کې ميشت افغانان (٥٩،٩٪) په دې نظر دي چې سياسي پستونه بايد د نارينه ؤ په اختيار کې ورکړل شي؛ په داسي حال کې چې د مرکزي/ هزاره جات سيمې اوسيدونکي (٥٩،٣٪) ډېرى په دې نظر دي چې سياسي پستونه بايد د نارينه ؤ او ښځو تر منځ په انډوليزه توګه وويشل شي.
- د دغو خنډونو برسيره چې د ښځو د سياسي ګډون پر وړاندى شتون لري، د هغو ښځو سلنه چې وايي احساس کوي چې کولى شي د دولت پر پريکړو اغيزه ولري له ٤١،٢٪ څخه په ٢٠١٣ کال کې ٥٢،٢٪ ته په ٢٠١٤ کال کې لوړ شوى دى. د ٢٠١٤ کال د جمهوري رياست د ټاکنو په برخه کې هم ورته ميلان ليدل کيږي چې په هکله يې ٦٠،٥٪ ښځې په دې باور دي چې دغه ټاکنې به يې د ژوند د سمون لامل وګرځي. دغه شميرې د ٢٠١٣ (٥٤،٠٪) کال له سروې څخه د تر لاسه شويو شميرو په پرتله په ډېره اندازه لوړې دي.
- د سږ کال په سروې کې له ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل شول چې آيا ښځې بايد د نارينه ؤ په څير له ورته تحصيلي فرصتونو څخه په بيلابيلو کچو او برخو کې برخمني وي که څنګه. په مدرسو کې د ښځو د اسلامي تعليم او تحصيل (٩٢،٣٪)، ابتداييه ښوونځيو (٨٣،٩٪)، ليسو (٨٢٪) او د خپلو ولايتونو په پوهنتونونو کې (٧١،٩٪) د هغوى د تحصيل په اړوند کلک ملاتړ موجود دى خو په نورو ولايتونو کې (٤٥،٢٪) او يا هم بهر ته د بورسونو له لارې د هغوى د تګ (٣٣،٤٪) په اړوند هومره ملاتړ نه تر سترګو کيږي.
- شاوخوا دوه پر دريیمه برخه افغانان (٦٧،٨٪) وايي چې ښځې بايد وکړاى شي چې له کور څخه دباندې کار وکړي. سږ کال له ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل شول چې آيا له دې نظر سره چې ښځې بايد په يوه ځانګړي

کاري چاپيريال کې کار وکړي موافق دي که مخالف. ښوونځي د ښځو لپاره تر ټولو غوره کاري چاپيريال وښودل شول (٨٣,٦٪ موافق افغانان)، چې ورپسې بيا روغتونونه يا کلنيکونه (٨٠,٨٪) او حکومتي دفترونه (٧٠,٠٪) راغلل. د پوليسو يا ملي اردو (٤١,٩٪) په ليکو کې او يا هم په غير حکومتي مؤسسو کې (٤٠,٩٪) د ښځو د ګومارل کېدو په اړوند مثبت نظرونه کم وو.

- په ټوليزه توګه ٧٩,١٪ افغانان وايي چې په بدو کې د ښځو ورکولو سره مخالف دي. په دې اړه د ښځو او نارينه ؤ تر منځ د نظر اختلاف په اصغري حد کې وو. ډيری هغه افغانان چې وايي له بد ورکولو سره موافق دي د هيواد په سهيل لويديځو برخو کې ژوند کوي.
- ددې پوښتنې په ځواب کې چې آيا د کورنيو تر منځ بدل د منلو وړ ده که نه، ٦٢,٨٪ افغانان وايي چې له بدل سره مخالف دي او ښځې د نارينه ؤ په پرتله ډېر مخالفت ښکاره کوي (٦٤,٧٪ د ٦٠,٦٪ په مقابل کې). افغانان د هيواد په سهيل ختيځو او سهيل لويديځو سيمو کې، چې ډيری يې کليوال دي، د نورو ټولو سيمو د اوسيدونکو په پرتله ډيری له دغې کړنې سره موافق دي.
- د هيواد په کچه، ٨٧,٣٪ افغانان تر يوه بريده او يا هم په جدي توګه د نجونو د ميراث له حق سره موافق دي.